مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې لسمه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر ۳۱مه | دویم کال| ۳۰۹مه ګڼه

## هېواد

۴ مخ

### سیشلز

د سیلانیانو کاروبار د دغه هېواد په اقتصاد کې لومړی ځای لري چې د هېواد ۳۵ سلنه خلکو ته یې کار او دولت ته یې ۷۰ سلنه عواید برابر کړي.



### په بلخ کې پر ٤زره جریبه ځمکه باغونه جوړېږي



په شمال کې د باغدارۍ او مالدارۍ ملي پروژې مسوول فهیم جباري  وایي، دغه باغونه به د شمال زون په پنځو ولایتونو، سمنګان، بلخ، جوزجان، سرپل او فاریاب کې پر ۴ زره جریبه اوبیزه ځمکه د بېلابېلو مېوو د باغونو جوړولو ترڅنګ، پر شاوخوا ۲ زره جریبه للمه ځمکه د پستې باغونه هم جوړ شي.
جباري وایي، دغه باغونه به د هغو مېوو له ونو جوړ شي چې له سیمه ییز چاپېریال سره مطابقت ولري.
د نوموړي په خبره، د باغدارۍ او مالدارۍ ملي پروګرام هڅه کوي چې باغدارانو ته د اسانتیاوو رامنځته کېدو په خاطر د سړو خونو ستونزه هم حل کړي، څو کروندګر وکولای شي چې خپل حاصلات پکې وساتي.
د شمال زون باغداران هم له دغه پروګرامه هرکلی کوي، خو وایي که یې د حاصلاتو د بازارموندنې او مارکېټ غم هم وخوړل شي، نو ګټه به یې یو پر دوه شي.

## د تخار ولایت په چاه اب کې نښتې؛

# د جمعیت او حزب اسلامي د پخوانیو قوماندانانو ترمنځ په نښته کې شپږ تنه وژل شوي



۳

د ټاکنو ځنډ، لاملونه او ستونزې
۲ مخ

په افغانستان کې د روږدو کسانو وضعیت
۲ مخ

د نړۍ د مشهورو شرکتونو اجرایوي مدیران د خپلو کار کوونکو څو برابره تنخوا اخلي؟
۵ مخ

## صیاد: ولسمشریزې ټاکنې به د راتلونکي کال د چنګاښ په ۲۹مه وشي

د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ولسمشریزو ټاکنو نېټه د راتلونکي کال د چنګاښ ۲۹مه اعلان کړه. د دغه کمېسیون مشر عبدالبدیع صیاد وویل، له نوي مهالوېش سره سم به درې نورې (د غزني د ولسي جرګې، د ولایتي او ولسوالیو شوراګانو) ټاکنې هم له ولسمشریزو ټاکنو سره یو ځای ترسره شي.
نوموړي وویل، د ځینو ستونزو له کبله کمېسیون د دې وس نه لري چې د ولسمشرۍ ټاکنې د راتلونکي کال د وري په ۳۱ ترسره کړي.
هغه وویل چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون تخنیکي او عملیاتي وړتیا هم نه لري او دغه بنسټ ته باید نوي کارکوونکي ونیول شي.
د ټاکنو خپلواک کمېسیون مشر وویل، ټاکل شوې ولسمشریزې ټاکنې له دریو میاشتو ځنډ سره د ۱۳۹۸ لمریز کال د چنګاښ په ۲۹ ترسره شي. تر دې وړاندې ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي وو چې ولسمشریزې ټاکنې به د راتلونکي کال د وري په ۳۱ مه ترسره شي.
دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون یوې سرچینې ویلي، حکومت تر دریو میاشتو پورې د جمهوري ریاست ټاکنو له ځنډولو سره توافق ښودلی، خو امریکایان او نور بهرني مرستندویان غواړي ټاکنې تر شپږو میاشتو وځنډېږي او په کمېسیونونو کې هم اصلاحات او تغیرات رامنځته شي.
تر دې وړاندې د ولسمشریزو ټاکنو احتمالي نوماند محمدحنیف اتمر خبرداری ورکړی و، که ولسمشریزې ټاکنې په خپله نېټه ترسره نه شي، نو هېواد به د بحران خواته لاړ شي.
اتمر حکومت تورن کړ چې پر ټاکنو خپلواک کمېسیون یې فشار راوړی چې ټاکنې وځنډوي.

## د کورنیو چارو وزارت منسوبین د سولې پر پروسه د تبصرې اجازه نه لري




۵ مخ

## نامزدان معترض: آرای پکتیا، خوست، پکتیکا و لوگر باید بازشماری شود



نامزدان معترض ولسی جرگه از پکتیا، خوست، پکتیکا و لوگر، خواستار شمارش مجدد آرای این ولایات و رسیدگی به تمام شکایت های انتخاباتی این ولایات شدند.
محمد صدیق احمدخیل یک تن از این نامزدان از پکتیا گفت که انتخابات در این ولایت، به شکل غیرقانونی پنج روز ادامه داشت و در آن تقلب گسترده شده است.
وی مدعی شد که مسؤلان حکومتی، به ویژه ولسوالان و قوماندانان امنیه، در انتخابات بی طرف نبودند و به نفع و یا ضرر نامزدان مشخص فعالیت کرده اند.
او گفت که آرای استفاده شده، بدون بایومتریک، برای نامزدان قابل پذیرش نمی باشد و همه نامزدان خواستار شمارش مجدد آرا هستند.
عتیق الله ارگونی یکتن از نامزدان معترض ولایت پکتیکا گفت که انتخابات ولسی جرگه در این ولایت، با مشکلات زیاد مواجه بود و تقلب به شکل گسترده از سوی زورمندان و مسؤلان محلی صورت گرفت.
وی بدون ارایه جزییات گفت که در این ولایت کسانی پیشتاز انتخابات شناخته شده اند که در محاکم دوسیه دارند.
این درحالیست که مسئولان کمیسیون شکایات انتخاباتی قبل  ازاین گفته اند که بیش از ده هزار شکایت از تخطی و تقلب، در انتخابات ولسی جرگه را دریافت نموده و به تمامی آن رسیدگی می‌شود.



## دریځ

### د ټاکنو ځنډ، لاملونه او ستونزې

د ټاکنو کمېسیون هغه څه ومنل چې حکومت یې غوښتنه کوله او د ولسمشرۍ ټاکنې یې درې میاشتې وځنډولې. د نوې پرېکړې له مخې به د غزني پارلماني ټاکنې او دغه راز د ولسوالیو او ولایتي شوراګانو ټاکنې هم د ولسمشرۍ له ټاکنو سره په یوه وخت د چنګاښ په ۲۹مه کېږي.

دا تصمیم د قانون خلاف دی چې ګڼې ستونزې را پیدا کولی شي. لومړی خو د ټاکنو کمېسیون پوره د ارګ په کنټرول کې دی او له داسې یو کمېسیون څخه د خپلواکو او قانوني تصمیمونو تمه نشته. په ټاکنو کې دا ځنډ نه د سیاسي ګوندونو او کاندیدانو غوښتنه وه او نه هم کمېسیون په خپله دا پرېکړه کړې ده، بلکې دا د ارګ پرېکړه وه او پر کمېسیون یې ومنله. دویم دا چې دا کمېسیون دومره کمزوری دی چې یوازې د ولسي جرګې ټاکنې یې سمې ونه کړې. اوس که د ولسمشرۍ ټاکنې وي او ورسره د غزني پارلماني ټاکنې او دغه راز د ولایتي شورا او ولسوالیو شوراګانو ټاکنې یو ځای کېږي، نو ستونزې به زیاتې وي. له یوه اړخه د افغانستان حالات دې ته جوړ نه دي چې دا ټاکنې یو ځای وشي او له بله اړخه کمېسیون فاسد او کمزوری دی. ارګ غواړي د ولسوالیو او ولایتي شوراګانو له کاندیدانو سره د جوړجاړي له لارې کمپاین وکړي او دغه راز صندقونه ډک کړي.

له بله اړخه د ټاکنو ځنډول په ښکاره د اساسي قانون او د ټاکنو د قانون نقض دی. خلک حاضر نه دي چې یوه ورځ هم ناقانونه واکمني و زغمي او بیا د ملي یووالي حکومت د کار دوام یوازې د خلکو د ستونزو د اوږدېدو سبب کېږي. که د ټاکنو ځنډ د کمېسیون د بې کفایتۍ له امله وي، په هېڅ ډول نه زغمل کېږي. که حکومت له دې ځنډ نه په ګټې اخیستنې سره غواړي چې په ټاکنو کې د لاسوهنې لپاره لا زیاتې لارې چارې برابرې کړي او ټاکنې په خپله ګټه را وڅرخوي، دا هم ناسم کار دی او خلک به اجازه ور نه کړي. که ټاکنې د سولې لپاره ځنډول کېږي او په رښتیا د ټاکنو ځنډ له سولې او یا د سولې له خبرو سره مرسته کوي، نو خلک حاضر دي چې دا ځنډ ومني. البته که دا ځنډ اوږد وي او د سولې خبرې او بریا ور پورې تړلې وي، نو بیا هم خلک دا ځنډ زغمي، خو پکار ده چې یو لنډمهاله حکومت جوړ شي. خلک د ټاکنو له ځنډ سره موافق دي، خو د ملي یووالي حکومت د کار له دوام سره په هېڅ ډول موافق نه دي، ځکه د دغه حکومت دوام نه له سولې سره مرسته ده او نه هم د افغانستان د حالاتو له سمون سره.

د دغه کمېسیون له خوا ټاکنې به یوه بله فاجعه وي، ځکه چې ارګ هڅه کوي، څو کمېسیون د دوی له ګټو سره سمې پرېکړې وکړي او تر اوسه پورې هر څه همداسې روان دي. اوس پکار ده چې سیاستوال په دې تړاو غبرګ پورته کړي او نور د یو رښتیني خپلواک کمېسیون غوښتنه وکړي. که ټاکنې ځنډول کېږي هم، هر څه باید روښانه وي او د ملي یووالي حکومت د دوام مخه باید ونیول شي.

# په افغانستان کې د روږدو کسانو وضعیت

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

په نشو روږدي ډېری کسان د ښارونو په سړکونو او کوڅو کې شپې او ورځې تېروي چې لسګونه تنه یې هر کال د ژمي له پیلېدو سره مړه کېږي. تازه د کابل ښاروالۍ چارواکو ویلي چې په کابل ښار کې د هوا له سړېدو سره سم، هره اونۍ د ښار په مختلفو سیمو کې د لسو شاوخوا جسدونه چې ډېری یې په نشه د روږدو کسانو دي، پیدا کوي او خاورو ته یې سپاري. دوی اندېښنه لري چې د هوا له سړېدو سره به دا شمېره نوره هم زیاته شي.

په افغانستان کې د روانې جګړې او ګڼو نورو بدبختیو ترڅنګ د نشه یي توکو کر، قاچاق او کارول هم هغه څه دي چې د دغه هېواد خلک ترې ځورېږي. په افغانستان کې له تېرو څو کلونو راهیسې د نشه یي توکو د تولید ترڅنګ په نشه د روږدو کسانو شمېر هم ورځ تر بلې مخ پر زیاتېدو دی او د مختلفو داخلي او نړیوالو ادارو د معلوماتو پر بنسټ په افغانستان کې د روږدو کسانو شمېر سلګونو زرو کسانو ته رسېږي.

په افغانستان او نړۍ کې په نشه د روږدو کسانو شمېر، په افغانستان کې د روږدو کسانو وضعیت، پر نشه د دوی د روږدېدو لاملونه او په ټولنه کې د نشه یي کسانو د موجودیت اغېزې، هغه موضوعات دي چې دلته مو پرې بحث کړی دی.

**په نشه روږدي کسان**

د نشه یي توکو کارونه په ټوله نړۍ کې یوه لویه ستونزه ګڼل کېږي او په میلیونونو کسان پرې اخته دي. د ملګرو ملتونو سازمان له نشه یي توکو او جرمونو سره د مبارزې اداري (UNODC) د معلوماتو پر بنسټ په ۲۰۱۵ ز کال کې په ټوله نړۍ کې شاوخوا ۲۵۵میلیونه کسان د نشه یي توکو پر کاروني اخته بلل شوي دي چې که د نړۍ ټول نفوس شپږ میلیارده وبولو، نو د نړۍ د ټول نفوس ۴،۲۵ سلنه وګړي د نشه یي توکو پر کارونه اخته ګڼلی شو.

د افغانستان د مرکزي احصایې د ادارې د معلوماتو پر بنسټ په ۱۳۹٦ لمریز کال کې د افغانستان ټول نفوس ۲۹،۷ میلیونو کسانو ته رسېده. له دې جملې په افغانستان کې د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د ادارو د معلوماتو پر بنسټ څه باندې درې میلیونه افغانان د نشه یي توکو پر کارونه بوخت دي چې د افغانستان د ټول نفوس نږدې لس سلنه برخه جوړوي.

په دغو درېو میلیونو کسانو کې ۸۰۰ زره ښځینه او ۱۰۰ زره یې هم هغه ماشومان شامل دي چې د نشه یي توکو پر کارولو بوخت دي. د روږدو کسانو له ډلې شاوخوا ۵۰۰ زره یې هغه کسان دي چې د زیاتو نشه یي توکو د کارولو له امله یې ټولنیز شخصیت له منځه تللی او په یوه ډېر بد حالت کې د ښار په کوڅو او سړکونو کې خپل وخت تېروي، خو په دې ډله کې پاتې نور هغه کسان شامل دي چې د بېلابېلو نشه یي توکو په کارولو اخته دي، ولې وضعیت یې دومره نه دی خراب شوی چې له خپل کور او کورنۍ لرې په کوڅو او سړکونو کې خپل وخت تېر کړي.

**د روږدو کسانو وضعیت**

په افغانستان کې د نشه یي توکو کر او کاروني له یوې خوا په نړیواله کچه د افغانستان نوم او اعتبار ته ستر زیان رسولی دی او له بلې خوا په دغه هېواد کې په نشه یي توکو د څه باندې درېو میلیونو افغانانو روږدي کېدل، هغه ستر بشري ناورین دی چې افغانان ورسره لاس او ګرېوان دي.

په افغانستان کې د څه باندې درېو میلیونو روږدو کسانو له ډلې، یوه لویه برخه یې د نشه یي توکو د کاروني له امله داسې وضعیت ته رسېدلې چې خپل کور او کورنۍ ترې پاتې دي او د ښار په کوڅو او کنډوالو کې شپې او ورځې تېروي.

اوسمهال کابل ښار د دا ډول کسانو پر یو ستر مرکز اوښتی دی. د ښار پارکونه، د سړکونو ترمنځ ګلدانونه، کوڅې او بازارونه ترې ډک دي او ډېری وخت په ځانګړې توګه د ژمي د موسم له راتګ سره په همدغو سړکونو او پارکونو کې مړه کېږي. په هر ځای کې څو تنه سره پنډ وي او په عامه ځایونو کې نشه یي توکي کاروي.

افغان حکومت که څه هم د دغو کسانو د درملنې لپاره فعالیت کوي او د روږدو کسانو د درملنې لپاره یې ځانګړي مرکزونه جوړ کړي دي، خو د دغو مرکزونو ظرفیت د روږدو کسانو شمېر ته په کتو خورا کم دی او نه شي کولی چې د ټولو درملنه پکې وکړي.

د افغانستان د روغتیا وزارت د معلوماتو پر بنسټ افغان دولت په نشه یي توکو د روږدو کسانو د درملنې په موخه د ټول هېواد په کچه د لسګونو شخصي مرکزونو ترڅنګ، څه باندې ۱۷۰ د درملنې دولتي مرکزونه لري چې هر کال پکې د سلګونو روږدو کسانو درملنه کېږي، خو د درملنې په دغو مرکزونو کې د تداوي شوو روږدو کسانو له ډلې ۷۰ سلنه یې د درملنې له مرکزونو له خارجېدو سره سم، بېرته د نشه یي توکو کاروني ته مخه کوي.

**په نشه د روږدېدو لاملونه**

په افغانستان کې په نشه د روږدو کسانو د شمېر د زیاتوالي په اړه لاندې څو ټکي د پام وړ دي:

جګړه او د جګړې دوام: په افغانستان کې له تېرو څو لسیزو راهیسې د جګړې دوام په دغه هېواد کې د نشه یي توکو کر او تولید ته پوره زمینه برابره کړې ده چې له امله یې افغانستان د نړۍ په کچه د نشه یي توکو د کر او تولید په لوی مرکز بدل شوی دی. له همدې امله په افغانستان کې د نشه یي توکو د کر او تولید ترڅنګ په نشه د روږدو کسانو شمېر هم زیات شوی دی.

بېوزلي او بېکاري: په افغانستان کې په نشه د روږدو کسانو په زیاتوالي کې بېوزلي او بېکاري یو بل مهم فکتور ګڼل کېږي. د نړیوال بانک د راپور پر بنسټ د افغانستان ۴۰ سلنه وګړي د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي او نږدې دوه میلیونه هغه کسان چې د کار کولو په شرایطو برابر دي، بېکاره ګرځي. همدا د کار نشتوالی او بېوزلي د دې لامل شوې چې ځینې ځوانان د نشه یي توکو کاروني ته مخه کړي.

کډوالي: په نشه یي توکو د اخته کسانو په زیاتوالي کې یو بل مهم فکتور هم نورو هېوادونو په ځانګړې توګه د افغانستان ګاونډیو هېوادونو ته مهاجرت ګڼل کېږي. د بېلګې په توګه، ایران هغه هېواد دی چې ډېری افغانان دغه هېواد ته له کډوالۍ وروسته په نشه یي توکو روږدي شوي دي.

نشه یي توکو ته اسانه لاسرسی: په افغانستان کې د اداري فساد او کمزورې حکومتولۍ له کبله د نشه یي توکو کر او تولید په دغه هېواد کې نشه یي توکو ته لاسرسی هم خورا ساده کړی دی. خلک کولی شي د هېواد په هر ولایت او هره سیمه کې په ډېرې اسانۍ سره نشه یي توکو ته لاسرسی ولري. همدې ساده لاسرسي او د حکومت له لوري د نشه یي توکو په پېر او پلور د کلک بندیز او څارنې نه شتون، په لوی لاس د نشه یي توکو کاروني ته زمینه برابره کړې ده.

**پر ټولنه د روږدو کسانو منفي اغېزې**

په افغانستان کې په نشه یي توکو د روږدو کسانو زیاتوالي پر ټولنه لاندې اغېزې کړې دي:

لومړی: په نشه د روږدو کسانو زیاتوالی په ټولنه کې د غلاوو او جنایي پېښو د زیاتوالي لامل شوی دی. په نشه روږدي کسان نشه یي توکو ته د لاسرسي په موخه پیسو ته اړتیا لري او د دې پیسو د پیدا کولو لپاره هم غلا کوي او هم جنایي جرمونه. د کابل ولایت امنیه قوماندانۍ په وینا، په کابل ښار کې په نشه د روږدو کسانو د غلاوو د مخنیوي لپاره یې سره له دې چې د پولیسو یو ځانګړی کنډک جوړ کړی دی، خو بیا هم په ځینو سیمو او پارکونو کې روږدي کسان د شپې له خوا د پارکونو پنجرې، دروازې یا هم د خلکو له کورونو ځینې وسایل غلا کوي. دغه راز په ځینو سیمو کې د شپې له خوا په لارو کې له خلکو پیسې او نور وسایل اخلي او بیا یې په بازار کې د نشه یي توکو د لاسته راوړلو په موخه پلوري.

دویم: په نشه د روږدو کسانو له زیاتوالي سره د ښار ککړتیا لا زیاته شوې ده. کابل ښار چې د ګوتو په شمېر څو تفریحي پارکونه لري، اوسمهال د همدغو نشه یي کسانو د پنډېدو پر ځایونو بدل شوي دي. د سړکونو ترمنځ زرغونې ساحې او ګلدانونه هم د روږدو کسانو له لاسه ککړ دي، ځکه شپه او ورځ په همدې سیمو کې راټول وي.

درېیم: په ښارونو او کوڅو کې په نشه د روږدو کسانو ازادانه تګ راتګ دغه بدمرغه عمل ته د نورو کسانو په جذب کې هم رول لري. ډېری ځوانان له دغو کسانو سره د نږدې اوسېدو له امله ورو ورو نشو ته مخه کوي او بالاخره په پوره توګه د نشه یي توکو پر کاروني اخته کېږي.

## ولسي جرګه: د سولې د تامین یوازینۍ لاره بین الافغاني خبرې دي

د ولسي جرګې د نړیوالو اړیکو کمېسیون وایي، تر هغې چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې خبرې ونه شي، هېواد ته به سوله رانه شي.

دغه کمېسیون وایي، تر هغې چې طالبان له افغان حکومت سره مخامخ خبرې ونه کړي، د سولې لپاره روانې هڅې به نتیجه ورنه کړي او جګړه به په هېواد کې لاپسې چټکه شي.

د ولسي جرګې د نړیوالو اړیکو د کمېسیون مرستیال محمد داود کلکاني د دغه مطلب په څرګندولو سره وایي، په افغانستان کې د سولې او ثبات د تامین یوازینۍ لاره بین الافغاني مذاکرات دي.

نوموړي وویل: «په داسې حال کې چې طالبان له افغان حکومت سره مذاکرات ونه کړي، اصلاً به سوله له ځان سره مثبته پایله ونه لري، ځکه د طالبانو مقابل اړخ افغان دولت دی، هر څومره چې له امریکا سره مذاکرات وکړي، مطلوبه پایله به ونه لري، جګړه به تېزه او پراخه شي».



دا څرګندونې داسې مهال مطرح کېږي چې طالبانو د یوې اعلامیې په خپرولو سره په خپل پخواني دریځ ټینګار کړی او ویلي یې دي چې په سعودي عربستان کې به د افغان حکومت له استازو سره خبرې ونه کړي.

د طالبانو په اعلامیه کې راغلي، د یو قوي اوسنجیده پلان په اساس له امریکا سره خبرې پر مخ وړي، تر څو په هېواد کې یې اشغال پای ته ورسېږي.

د کوېټې شورا یو تن غړي د خپل نوم نه ښودلو په شرط رویټرز خبري اژانس ته ویلي چې د جنوري په میاشت کې له امریکایي چارواکو سره په عربستان کې خبرې کوي، خو په ډاګه کړې یې نه ده چې له افغان حکومته به خبرې وکړي که نه.

دوه اونۍ وړاندې طالبانو د متحده عربي اماراتو په غونډه کې د افغان حکومت له لېږل شوي پلاوي سره خبرې ونه کړې.

له دې وړاندې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي په نقل یو راپور خپور شوی و چې نوموړي کابل ته خپل وروستي سفر په ترڅ کې افغان چارواکو سره ژمنه کړې وه چې طالبان به له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته حاضروي.

### د تخار ولایت په چاه اب کې نښتې؛

# د جمعیت او حزب اسلامي د پخوانیو قوماندانانو ترمنځ په نښته کې شپږ تنه وژل شوي



په تخار کې د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي د قوماندانانو ترمنځ یو ځل بیا جګړه شوې چې د یوه ملکي وګړي په ګډون له دواړو خواوو څخه پنځه تنه وژل شوي او ډېر نور ټپیان دي.

د تخار امنیتي چارواکي وایي چې دغه نښته په چاه اب ولسوالۍ کې د جمعیت اسلامي د قوماندان مولوي محفوظ او د حزب اسلامي د قوماندان بشیر قانت ترمنځ شوې ده.

د دې نښتې له امله عامو خلکو ته هم زیان اوښتی او د خلکو دوکانونه او کاروبار ورسره په ټپه درېدلي دي.

د سیمې اوسېدونکي وایي، په تخار ولایت کې د نامسوولو وسله والو فعالیت له بل هر وخته زیات شوی.

د دې سیمې یو اوسېدونکی وایي : «موږ د چاه اب ولسوالۍ اوسېدونکي د نامسوولو وسله والو له فعالیتونو نه سخت اندېښمن یو. په دې وروستیو کې د دغو ډلو ترمنځ په نښتو کې له دواړو لورو څو تنه ووژل شول، د خلکو دوکانونه او کاروبارونه تړلي او په خپلو کورونو کې بند پاتې دي.»

ځایي اوسېدونکي وایي، د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي د قوماندانانو ترمنځ دغه شخړې د سرو زرو د یوه کان او نشه یي توکو پر سر دي، خو جمعیت اسلامي بیا وایي، دغه شخړې د قبیلوي مسایلو له امله رامنځته شوې دي.

د تخار امنیتي چارواکي وایي، د وضعیت د کنټرول لپاره سیمې ته امنیتي ځواکونه استول شوي دي.

د تخار د والي ویاند محمد جواد هجري وویل: «پخوا هم د دغو ډلو ترمنځ ستونزې وې. د دوی ترمنځ د مختلفو انګېزو له کبله جنجالونه وو، خو زه دا نه شم تاییدولی چې د دوی ترمنځ دې د سرو زرو کان یا مخدره توکو پر سر شخړې شوې وي.»

په تخار کې د حزب اسلامي او جمعیت د پخوانیو قوماندانانو ترمنځ دغه جګړه داسې مهال کېږي، چې له دې وړاندې هم د بشیر قانت او د جمعیت اسلامي د یوه بل قوماندان فیض الله ترمنځ په نښتو کې شاوخوا شلو تنو ته مرګ ژوبله اوښتې وه.

د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي د نامسوولو وسله والو ترمنځ خپلمنځي نښتې نوې خبره نه ده، بلکې تر دې وړاندې هم د دواړو لورو ترمنځ نښتې شوې چې لسګونو کسانو ته پکې مرګ ژوبله اوښتې او د سیمې ډېری اوسېدونکي یې هم له خپلو کورونو بېځایه کېدو ته اړ کړي.

# د پاکستان هوايي چلند یا(PIA) شرکت لسګونه کارکوونکي له دندو شړلي

د پاکستان ملي هوايي چلند یا (پي ای اي) شرکت اعلان کړی چې د جعلي تعلیمي اسنادو له کبله یې د دریو پیلوټانو په ګډون ۵۰ کارکوونکي له دندو شړلي دي.

دغه حکومتي شرکت ویلي، دا پرېکړه یې د هېواد د سترې محکمې په غوښتنه کړې ده. دا په داسې حال کې ده چې د دغه هېواد سترې محکمې د روان کال په لومړیو کې په دې اړه د څېړنو امر وکړ. د څېړنو دا امر وروسته له هغه وشو چې د ځینو پیلوټانو د جعلي تعلیمي اسنادو په اړه خبرونه خپاره شول.

دغه راز یاد شرکت منلې ده چې په جعلي اسنادو ګومارل شویو کارکوونکو کې درې پیلوټان هم دي.

یوې پاکستانۍ ورځپاڼې د سترې محکمې د یوه قاضي له خولې ویلي، ځینې پیلوټان ان د موټر په چلولو هم نه پوهېدل، خو پیلوټي یې کوله او مسافر یې له خطر سره مخامخول.

لا تر اوسه دغه شرکت دې پایلې ته نه دی رسېدلی چې ګنې تر ۴۰۰ ډېر کارکوونکي کې یې جعلي تعلیمي اسناد لري.

پاکستاني رسنیو ویلي، دغه شرکت هره میاشت له څه باندې ۵۰ میلیونو ډالرو زیان سره مخ دی.

د ۲۰۰٦ ز کال د جولای پر ۱۰مه د پاکستان نړیوال هوايي شرکت پي ای اي یوه الوتکه په ملتان کې ولوېده چې ۴۵ کسان پکې ووژل شول.

په ۲۰۱٦ ز کال کې د دغه هېواد حکومت غوښتل چې پي ای اي شرکت وپلوري او خصوصي یې کړي.

تېر کال پاکستاني چارواکو ویل، د دغه هېواد دولتي هوايي شرکت ته هره ورځ مالي زیان اوړي. د هوايي چلند لپاره د پاکستان د لومړي وزیر سلاکار سردار مهتاب عباسي ویلي وو، ناسمه اداره او ناسمې اداري پرېکړې د دې لامل شوې چې «پي ای اي» هره ورځ مالي زیان ووینې او په دې توګه دغه شرکت تېرو څه باندې ۱۰ کلونو کې له څلور میلیاردو ډالرو ډېر مالي زیان کړی دی.

دغه راز ویل کېږي چې امریکا ته په الوتنو کې دغه شرکت ته هر کال نږدې ۱۲ میلیونه ډالره زیان اوښتی دی.

د پاکستان دغه نړیوال هوايي شرکت په ۱۹۴٦ ز کال کې تاسیس شو چې اوسمهال ۲۲ کورنیو او ۲۸ نړیوالو هوايي ډګرونو ته الوتنې ترې کېږي.

**افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه په کندهار او ګاونډیو ولایتونو کې د ترهګرو پر ضد خپلو بریالیو عملیاتو ته دوام ورکوي ترڅو دښمنان د قانون منګولو ته وسپاري او په ټوله سیمه کې ترهګري له منځه یوسي. دغه بریالي عملیات د زده کړې، مرستې او تر ټولو مهمه داچې له خلکو او هېواد څخه د ساتنې په موخه زمونږ د زړورو سرتیرو ژمنه په ډاګه کوي.**



نیروهای ملی دفاعی و امنیتی افغان برای محافظت مردم!



افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه د خلکو د ساتنې لپاره!



**نیروهای ملی دفاعی و امنیتی افغان به راه اندازی عملیات های موفقانه شان علیه شورشیان در ولایت کندهار و ولایت های همجوار آن، ادامه می دهند تا دشمنان را به پنجه قانون بسپارند و فعالیت های جنایتکارانه را در سراسر کشور، ریشه کن کنند. این عملیات های موفقانه، تعهد مبارزان شجاع ما را به آموزش، همکاری و در نهایت انجام موفقانه ماموریت حفاظت از مردم و کشور، نشان می دهد.**

## د کتاب خبرې

# د لوی فکر جادو

لیکوال: دوکتور ډېوډ شوارټز
ژباړن: میراحمد یاد

### لومړی څپرکی
### پر خپل بري باور ولرئ:




**د ناروغۍ له بهانې سره د مبارزې څلور لارې**
**د دې ناروغۍ لپاره ښه واکسین، له څلورو درملو جوړ شوي دي:**

۱) د خپلو ناروغیو په اړه مه غږېږئ. که زکام هم وئ، څومره چې د خپلې ناروغۍ په اړه غږېږئ، هومره به مو حالت خرابېږي. په ناروغیو غږېدل داسې دي لکه بوټو ته سره (پارو) ورکول. بله دا چې د شخصي مسائلو په اړه غږېدل ښه کار نه دی، د خلکو حوصله ختموي او انسان ورسره ځانخوښی ښکاري. ځوک چې بریا غواړي، په ځان کې د ځان په اړه د غږېدو لېوالتیا هم ځپي. که خپلې ستونزې یادې کړئ، ښایي یوازې د ځینو خلکو زړه سوی درجلب کړئ، خو له دې لارې د خلکو درناوی او مینه نه شئ ترلاسه کولای.

۲) روغتیا ته اندېښنه مه کوئ. د مایو په مشهور کلینیک کې افختاري سلاکار ډاکتر والتر الواریز څه وړاندې ولیکل: (زه تل مضطربو (خپه) خلکو ته زارۍ کوم چې لږ په سد شئ. مثلاً یو کس به اته ځله د تریخې عکسونه واخیستل، بیا به یې هم زړه ډاډه نه و چې تریخی یې گنې جوړ دی، ما به ورته ویل چې نور عکسونه یې مه اخله. سلگونه داسې خلک وو چې د خپل زړه درزا به یې اورېده، ما ورته وویل چې نور د زړه گراف مه وباسئ.

۳) شکر وکړئ چې دومره خو روغ یئ. پخواني وايي په هر حال شکر پکار دی، له بدو بدتر شته، ځینې خلک دې ته خپه وي چې بوټان نه لري، خو دې ته نه گوري چې ځینې خلک پښې هم نه لري. له ناروغۍ د سر ټکولو پر ځای دا ښه ده چې په روغتیا شکر وکاږئ. که خپلې همدې نسبي روغتیا ته خوښ شئ، نو دا په دې مانا ده چې د ډېرو قوي ناروغیو واکسین مو کړي دي.

٤) ځان ته ووایئ (زړښت تر ماتې ښه دی.) ژوند د دې لپاره درکړل شوی چې خوند ترې واخلئ، نه چې ضایع یې کړئ. ژوند د ناروغۍ پر تخت د پرېوتو په وېره او اندېښنو کې مه تېروئ.

ب. خو د بریالیتوب لپاره باید هوښیار و اوسو. دا بهانه چې زه تکړه نه یم یا وړتیا نه لرم، ډېره عامه ده او دومره خپره ده چې ۹۹٪ سلنه خلک یې په بېلابېلو درجو اخته دي. خو د نورو اپوټه پر دې بهانې اخته کسان نه ماتېږي. لږ خلک ښکاره دا مني چې پوهه او وړتیا یا ځیرکتیا نه لري، دوی د خپل وجود په ژورو کې له دې احساسه ځورېږي.

موږ زیاتره د هوښ او وړتیا په برخه کې د دوو اساسي تېروتنو ښکار کېږو:

۱) یا خپل هوښ او وړتیا ټیټه بولو.

۲) یا د نورو د هوښ او وړتیا په اړه مبالغه کوو.

د همدې دوو تېروتنو له امله خلک خپلې وړتیاوې جدي نه گڼي. په کاري فرصتونو کې د سیالۍ قوت بایلي، ځکه دوی وايي چې دا کار (وړتیا) غواړي، خو دې ته نه گوري چې یو نابلده سړی به راشي، د وړتیا په غم کې به هم نه وي او له فرصته به گټه واخلي.

اصلي خبره دا نه ده چې څومره وړتیا پکار ده، بلکې اصلي موضوع دا ده چې له وړتیا څومره کار واخیستل شي. تاسې چې د خپلې وړتیا په اړه څنگه نظر لرئ، دا یې تر اندازې ډېر مهم دی. زه به درته دا جمله بیا تکرار کړم چې:

تاسې چې د خپلې وړتیا په اړه کوم نظر لرئ، دا د وړتیا تر اندازې ډېر مهم دی.

(ستاسې ماشوم عالم کېدای شي که نه؟) د دې پوښتنې په ځواب کې د هېواد مشهور فزیک پوه دوکتور ایدورد تیلر وايي: (ستاسې ماشوم د عالم کېدو لپاره نه پراخه او پرانیستي ذهن ته اړتیا لري او نه ورته خارق العاده حافظه پکار ده. په ښوونځي کې دې هم لوړې نومرې نه اخلي، خو یوازینی شی چې مهم او اړین دی، هغه دا دی چې ستاسې ماشوم باید له علمي مسائلو سره شوق (علاقه) ولري.)

شوق او لېوالتیا ان په علمي چاپېریال کې هم مهم فکتور دی!

که د یوه انسان د هوښیارتیا درجه (IQ) سل وي، خو دی مثبت فکر ولري، خوشبینه او ټولنیز وي، نو تر هغه چا ډېرې پیسې، درناوی او بریا ترلاسه کولای شي چې د هوښیارتیا درجه یې (۱۲۰)وي، خو ذهن یې منفي، بدبینه او ځانخوښی وي.

که څوک یو کار کوي او پای ته یې رسوي، په دې کار کې لږه هوښیارتیا تر هغې ډېرې هوښیارتیا ښه ده چې گټه ترې نه اخیستل کېږي او هسې پرته وي، که څه هم د نبوغ تر کچې رسېدلې وي.

ځکه وړتیا پخپله ۹۵٪ ټیکاو (ثبات) دی.

تېرکال مې په یوه مېلمستیا کې د پوهنتون یو همدوره، نږدې یوولس کاله وروسته ولید. نوموړی ډېر تکړه محصل و او په لوړه درجه فارغ شوی و. په وروستي ځل مې چې لیدلی و، غوښتل یې په لویدیځه نبراسکا کې په خپله پانگه یو ازاد کاروبار پیل کړي.

ما ترې پوښتنه وکړه چې څه کار دې پیل کړی دی؟

ویې ویل: (ولا په خپلو پښو ونه درېدم. تر پنځه کاله مخکې یا پروسږ کال پورې مې هم دا اعتراف نشو کولای، خو اوس پرې خبرې کولای شم.

د پوهنتون درسونو ته چې متوجې شم، گورم چې دومره سرشاره ذهن لرم، خو بیا هم یوازې په دې برخه کې متخصص شوی یم چې د سوداگریزو مفکورو ضعفونه او د ماتېدو لاملونه ووینم. ذهن مې کاروبار کې په ستونزو او سختیو لیدلو بوخت کړی و. د دې تر څنگ مې نور هغه لاملونه لټول چې د ورو کاروبارونو د ماتېدو لامل کېدل، مثلاً (د کافي پانگې نشتون یا دا ډاډ نه لرل چې د کار پړاونه به سم ترسره شي، د تولید په نسبت د تقاضا بشپړوالی، له کورنیو صنایعو د دولت ملاتړ او لنډه دا چې زرگونه نورې مسألې چې باید کنټرول شوې وای ... دا باید کنټرول شوې وای.

**دوام لري...**

# سیشلز

حشمت الله نوري



سیشلز د افریقا لویې وچې په شمال ختیځو سواحلو کې د ختیځو طول البلدونو د ٦٢ او ٦٣ درجو او د جنوبي عرض البلدونو د ۴ او ۵ درجو ترمنځ موقعیت لري. پراخوالی یې ۱۷۱ کیلومتره مربع دی او له دې پلوه د نړۍ ۱٦۱م لوی هېواد دی. دغه هېواد څلورو خواوو ته له اوبو سره ۴۹۱ کیلومتره پوله لري.

سیشلز توده او لنده استوايي هوا لري. په دغه هېواد کې له سمندر سره د گاونډیتوب له کبله هر کال کابو ۲۵۰۰ ملي متره اورښت کېږي.

سیشلز د افریقا د لویې وچې په شمال ختیځو اوبو کې له ۹۲ لویو او کوچنیو ټاپوگانو څخه جوړ شوی کوچنی افریقایي هېواد دی.

سیندونه یې ډېر لنډ او له اوبو ډک دي. د سیندونو ټولې اوبه یې د هند سمندر ته ځي.

د دغه هېواد پلازمېنه وکتوریا ښار دی، د ټولو وگړو شمېر یې ۹۵ زره کسانو ته رسېږي چې په هر کلیومتر مربع سیمه کې یې ۲۰۰ تنه ژوند کوي.

د دغه هېواد ٦٥ سلنه خلک په ښارونو او ۳۵ سلنه یې په کلیو او بانډو کې مېشت دي. د سیشلز د قانون له مخې هره کورنۍ په ټول عمر کې د دوو ماشومانو د درلودو حق لري.

د اداري وېش له مخې دغه هېواد په ۲۵ ولسوالیو وېشل شوی دی. بیل اومبري، بي والون، کاسکد او اوتاکاماکا یې مهم ښارونه دي.

وگړي یې تور، سپین، اروپايي، افریقایي او اسیايي نژاده دي. د دغه هېواد ډېر خلک فرانسویان او د هغوی د پخوانیو افریقایي مرییانو لمسیان دي. په دې سربېره هندیان، چینایان، عرب او نور اروپایان هم په دغه هېواد کې ژوند کوي.

۹۵ سلنه وگړي یې هندي مذهبه، ۲ سلنه یې مسلمانان او پاتې نور یې د نا پېژانده مذهب پیروان دي. رسمي ژبه یې انگلیسي او لیکدود یې لاتیني دی.

د سیشلز د حکومت ډول جمهوري دی. نوی اساسي قانون یې په ۱۹۹۳ ز کال د جون په ۱۸مه نافذ شو. د دغه هېواد ولسمشر د خلکو په خوښه د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي، دوه ځلې کار کولای شي او د وزیرانو کابینه هم د ولسمشر له خوا ټاکل کېږي.

د دغه هېواد ولسي جرگه ۳۴ غړي لري چې ۲۵ یې د خلکو په خوښه او ۹ یې د سیاسي ډلو له خوا د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي. په دغه هېواد کې رایه ورکول عمومي او د رایې ورکولو سن پکې ۱۷ کاله ټاکل شوی دی.

د سیشلز حقوقي نظام پر برېټانوي عمومي قوانینو، د فرانسې پر مدني قانون او پر سیمه ییزو عنعنوي روایاتو ولاړ دی.

د استیناف محکمه او ستره محکمه د دغه هېواد لوړ قضایي ارگانونه دي چې قاضیان یې د ولسمشر له خوا ټاکل کېږي.

ولسواک گوند، نوی ولسواک گوند، د سیشلز لېبرال گوند او د سیشلز ولسواک غورځنگ یې مهم او نفوذ لرونکي گوندونه دي.

دغه هېواد د ۱۹۷٦ ز کال د جون په ۲۹مه له برېټانیا څخه خپلواکي واخیسته او هر کال همدا ورځ د خپلواکۍ د ورځې په نوم پکې نمانځل کېږي.

د ۱۹۷٦ ز کال د سپټمبر په ۲مه یې د ملگرو ملتونو ترڅنگ، د نورو نړیوالو ټولنو غړیتوب هم ترلاسه کړ.

له خپلواکۍ څخه د مخه د دغه هېواد د سړي سرکلني عاید کچې یوازې د خلکو د ژوند لومړنۍ اړتیاوې پوره کولې، خو په تېرو څلور لسیزو کې د هند په سمندر کې د ټاپوگانو له لارې د دغه هېواد د خلکو د سړي سر کلني عاید کچه اووه برابره ډېره شوې او سیشلز اوس له هغو هېوادونو څخه دی چې خلک یې لوړ عاید لري. د دغه هېواد په اقتصاد کې د سیلانیانو کاروبار لومړی ځای لري چې د هېواد ۳۵ سلنه خلکو ته یې کار او دولت ته یې ۷۰ سلنه عواید برابر کړي او له دې وروسته یې په اقتصاد کې د کبانو نیول دویم ځای لري.

په دې وروستیو کې د سیشلز دولت بهرني پانگوال هڅولي، څو په دغه هېواد کې سیلانیانو ته نوي هوټلونه، اسانتیاوې او هوساینې برابرې کړي. له دې سره جوخت د سیشلز دولت هڅې کوي چې د کوچنیو فابریکو د جوړولو، د کرنې او کب نیونې د پراختیا له لارې پر توریزم باندې د خپل هېواد انحصاري اتکا کمه کړي.

په تېرو لسیزو کې جگړو وښوده چې یوازې پر سیلانیانو باندې د سیشلز اقتصادي اتکا، له ځان سره ډېرې ناوړه پایلې او اغېزې درلودې. د دغه هېواد ټاپوگان د ډېرو سیلانیانو د هڅولو لپاره له غټو سیمه ییزو سیالیو سره مخ دي. د دولتي تشبثاتو خصوصي کول او د دولتي بودجې د کسر راکمول هغه دوې ستونزې وې چې د سیشلز دولت او د دغه هېواد اقتصادي ټولنو په دې وروستیو کلونو کې څه نا څه هوارې کړې دي.

د ۲۰۰۸ ز کال په ډسمبر کې سیشلز له ای ایم ایف نړیوال بانک سره د متقابلو اړیکو یو تړون لاسلیک کړ. د دغه تړون له مخې، سیشلز د خپلو پیسو د بیو ټاکنه د بازار عواملو ته پرېښوده، پر بهرنیو اسعارو کنټرول لرې شو، دولتي لگښتونه کم شول او په خپلو مالي او اسعاري کړنلارو یې بیاکتنه وکړه. له هغه ځایه چې د سیشلز دولت د دغو کړنلارو په تطبیق کې بریا تر لاسه کړه، ای ایم ایف له دغه هېواد سره ۳۱ میلیونه ډالره مرسته وکړه چې په دې سره یې ډېرې ستونزې حل شوې.

د کبانو نیول، خوراکي توکي، د څښاک توکي، ټوکران، سمنټ، لرگي، موبلایل، فرنیچر، گوگړ، سیلانیان او د کوچنیو بېړیو جوړول او ترمیم یې مهم صنعتي فکټورونه دي.

د دغه هېواد ۵ سلنه ځمکه د کرنې وړ ده، ۱۵ سلنه یې څرځایونو او پاتې نوره یې غرونو، سیندونو، ښارونو او د استوگنې کلیوالو سیمو نیولې ده. د دغه هېواد ۵ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۴ سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکټور څخه لاس ته راځي.

لرگي، وریجې، خرما، کچالو، ږدن، گنې، قهوه، کېلې، سابه، هگۍ او وابښه د سیشلز د کرنې او څارویو مهم محصولات بلل کېږي. سعودي عربستان، جنوبي افریقا، اسپانیا، سنگاپور، فرانسه او هند د دغه هېواد لوی تجارتي شریکان دي.

سیشلز ۱۸ هوايي ډگرونه لري چې ۱۰ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي.

د دغه هېواد د ټلیفون کوډ نمبر ۰۰۲۴۸ او د انټرنېټ کوډ نمبر یې اېس سي دی او ۴۰ کسان یې انټرنېټ ته لاسرسی لري.

سیشلز دوه دولتي ټلوېزیونونه او یوه راډیو لري.

د دې ترڅنگ په دغه هېواد کې ۴ ورځپاڼې او ۴۰ اونیزې، میاشتنۍ او مهالنۍ هم فعالیت کوي.

سیشلز د افریقا او نړۍ له بډایه او پرمختللو کوچنیو هېوادونو څخه دی. د دغه هېواد ۹۲ سلنه خلک په لیک او لوست پوهېږي او زده کړه پکې له ٦- ١٦ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو باندې جبري ده.

دغه هېواد تانزانیا او عمان ته نږدې موقعیت لري چې پخوا یې خورا سوق الجیشي ارزښت درلود. له همدې امله عربي سوداگرو له ١٦مې پېړۍ مخکې دغو ټاپوگانو ته تگ راتگ پیل کړ او هلته یې فعالیت کاوه.

په ۱۵۰۵ ز کال کې د لومړي ځل لپاره د اروپايي پرتگالیانو بېړۍ د دغه هېواد سواحلو ته ورسېدې.

د پرتگالیانو له تگ راتگ سره جوخت سمندري غله د سیشلز په سواحلو کې ځای پر ځای شول او په سمندري غلاوو یې لاس پورې کړ. په ۱۷۴۳ ز کال کې د موریشیس فرانسوي واکمن موریس دولاپور د دغه سیمې ټاپوگانو ته استازي واستول. دوی ورو ورو دغه ټاپوگان د فرانسې د پاچا شپاړسم لویي د مالیې وزیر په ویاړ د سیشلز په نامه ونومول. فرانسویانو هغه وخت په دغه هېواد کې د عطري بوټو کرنې ته د سوداگرۍ لپاره وده ورکړه او هلته یې څو پوځي ټولې ځای پر ځای کړل.

د ۱۸مې پېړۍ په پای کې هغه وخت چې ټوله اروپا د فرانسې د انقلاب څپو نیولې وه، په ۱۷۴۹ ز کال کې د هند په سمندر کې ځینو پرتو برېټانوي ټولگیو پر سیشلز یرغل وکړ او فرانسویان یې له دغو ټاپوگانو څخه وایستل. په ۱۸۱۴ ز کال کې د پاریس تړون د برېټانیا حاکمیت ته رسمي بڼه ورکړه او دغه ټاپویز هېواد یې له یوې بلې برېټانوي سیمې سره یو ځای کړ. په ۱۹۰۳ ز کال کې دغه هېواد له موریشیس څخه بېل او د برېټانیا د یوې جلا مستعمرې بڼه یې غوره کړه. دغه هېواد ۱۸۲ کاله د برېټانیا تر ولکې لاندې پاتې شو. په لومړیو سلو کلونو کې یې د هند په سمندر کې د برېټانیا د سوداگریزو او پوځي بېړیو د تگ راتگ لپاره هومره ارزښت درلود چې د برېټانوي سیاست ماهرینو د هند د سمندر د ملغلرې نوم ورکړی و. په لومړۍ او دویمه نړیواله جگړه کې سیشلز مهم ځای درلود او د برېټانیا ستره هوايي او سمندري اډه بلل کېده.

برېټانیا پر دغه هېواد باندې د خپل حاکمیت پر وخت کې د دغه هېواد د خلکو د تور فرهنگ د اړولو هڅه وکړه، خو د ۲۰مې پېړۍ په دویمه نیمایي کې همدا تور پوستي د دوی پر ضد راپاڅېدل او د خپلواکۍ لپاره یې پرله پسې بغاوتونه وکړل. د برېټانوي واکمنۍ پر ضد د سیشلز د خلکو پاڅون په ۱۹٦۰ ز کال کې ډېر پیاوړی شو. په ۱۹٦۴ ز کال کې د دغه هېواد د خلکو ولسواک گوند جوړ شو چې په خلکو کې یې د ملي احساساتو د پیاوړتیا او خپلواکۍ ننگه کوله. دغه گوند په ۱۹٦۵ او ۱۹٦٦ ز کلونو کې د برېټانوي واکمنۍ پر ضد ډېر لاریونونه او اعتصابونه وکړل. په همدې وخت کې د استعمار پلویانو چې د خپل هېواد د خپلواکۍ او ولسواک گوند مخالفین وو، د سیشلز د مالیې ورکوونکو ټولنه جوړه کړه چې وروسته یې ځان د دغه هېواد د ولسواک گوند په نامه ثبت کړ. په ۱۹۷۰ ز کال کې د سیشلز کورواکي بشپړه شوه، له دې وروسته یې د خپلواکۍ مبارزینو خپلې هڅې نورې هم غښتلې کړې او برېټانیا یې په مناسبو نړیوالو شرایطو کې د خپل هېواد د پوره خپلواکۍ منلو ته اړ کړه. بالاخره د ۱۹۷٦ ز کال د جون په ۲۹مه یې له برېټانیا څخه خپلواکي واخیسته.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ستراتېژیکو اړیکو په کتاب کې د سیشلز نوم نشته، نو له همدې کبله دغه دواړه هېوادونه په خپلو کې اړیکې نه لري.

له افغانستانه تر سیشلز پورې د هوا له لارې فاصله ۴۴۸۲ کیلومترو ته رسېږي او دغه راز د کابل او وکتوریا ترمنځ د وخت توپیر هم ۳۰ دقیقې دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,٤۰ |
| € | ۸٦ |
| Rp. | ٥٤۰ |
| ₹ | ۱۰۷٥ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۹٥ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بيړنۍ شميرې

پوليس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسير ورځپانه

**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي

**اېډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي

**ليکوالان:** محمد نظيم سمون، جاويد کوټوال او شفيق همدرد

**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين او حشمت الله نوري

**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان

**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# د نړۍ د مشهورو شرکتونو اجرايوي مديران د خپلو کار کوونکو څو برابره تنخوا اخلي؟

ژباړه: حميدالله حميدي

د نوي قانون له مخې اوس د شرکت عادي کار کوونکي کولی شي د خپل اجرايوي مدير له تنخوا هم خبر شي. د نړۍ د مشهورو شرکتونو ډېری اجرايوي مديران ان د خپلو عادي کار کوونکو څلور زره برابره لوړ معاش اخلي. دا چې اجرايوي مديران بايد د خپلو عادي کار کوونکو څو برابره تنخوا واخلي، ډېره له پامه لوېدلې خبره ده. د دوی د معاشونو دغه کچه کال پر کال پورته ځي. نږدې دېرش کاله پخوا د ځينو بهرنيو مشهورو شرکتونو اجرايوي مديرانو د خپلو عادي کار کوونکو شل برابره لوړ معاش اخيست، خو وروستی څېړنې دا په ډاګه کوي چې اوس دغه شمېره په يوه عادي شرکت کې ۳۱۲ برابره شوې ده، خو په ځينو نورو کې بيا له دې هم پورته ده. د بېلګې په توګه، د ډونالډ شرکت اجرايوي مدير د دغه شرکت د يوه عادي کار کوونکي په پرتله ۳۱۰۱ برابره لوړ معاش اخلي چې په يوه کال کې لږ تر لږه ۲۱ ميليونه ۷۱٦ زره ٥۲ ډالره کېږي. په داسې حال کې چې د دغه شرکت يو عادي کار کوونکی د کال يوازې ۷ زره ۱۷ ډالره تنخوا لري. دا چې دغه شرکت د نړۍ په ګوټ ګوټ کې څانګې لري، نو کېدای شي له امريکا پرته د ځينو نورو هېوادونو د خلکو لپاره دا يو ښه معاش وي. په ۲۰۱۸ ز کال کې بالاخره هغه قانون تصويب شو چې د يوه شرکت عادي کار کوونکی هم بايد د خپل اجرايوي مدير له معاش يا تنخوا څخه خبر وي. موږ په دې ليکنه کې د نړۍ د ځينو مشهورو شرکتونو د اجرايوي مديرانو او د همدې شرکتونو د عادي کار کوونکو په اړه معلومات را ټول کړي. هيله ده چې ليکنه تر پايه ولولئ.

**ټويټر:** په زړه پورې خو دا ده چې د ټويټر شرکت اجريوي مدير هېڅ معاش نه لري، ځکه چې دی په خپله د شرکت يو شريک دی او د کار کوونکو شمېر يې ۳۳۷۲ تنو ته رسېږي. دغه راز د هر منځني کار کوونکي کلنۍ تنخوا يې ۱٦۱۸٦۰ ډالره ده.

**الفابېټ:** د دغه شرکت اجرايوي مدير د خپلو کارکوونکو ۰.۰۰۰۰۰٥ برابره لوړ معاش اخلي. د کار کوونکو شمېر يې ۸۰۱۱۰ تنه دی.

د اجرايوي مدير معاش يې يو ډالر دی. دا په دې مانا نه ده چې د يوه ډالر په بدل کې کار کوي. د ډېرى شرکتونو اجرايوي مديران خپله د همدغو شرکتونو پانګوال او څښتنان وي.

د هر منځني کار کوونکي کلنۍ تنخوا يې: ۱۹۷۲۷۴ ډالره ده.

**امازون:** د دغه شرکت اجرايوي مدير د خپلو عادي کارکوونکو ٥۹ برابره لوړه تنخوا اخلي. د کار کوونکو شمېر يې ٥٦٦۰۰۰ تنه دی. دغه راز د هر منځني کار کوونکي کلنۍ تنخوا يې ۲۸۴۴٦ ډالره کېږي.

**کرافټ هاينز:** د دغه شرکت اجرايوي مدير له خپلو عادي کارکوونکو څخه ۹۱ برابره لوړه تنخوا اخلي او د کار کوونکو شمېر يې ۳۹۰۰۰ تنه دی.

د اجرايوي مدير کلنی معاش يې ۴۱۹۴۱۷۹ ډالره دی. دغه راز د هر عاي کار کوونکي کلنی معاش يې ۴٦۰۰٦ ډالره دی.

**نتفليکس:** د دغه شرکت اجرايوي مدير د خپلو عادي کارکوونکو ۱۳۳ برابره لوړه تنخوا اخلي او د کار کوونکو شمېر يې ۴۸٥٥ تنه دی. دغه راز د اجرايوي مدير کلنۍ تنخوا يې ۲۴۳۷۷۴۹۹ ډالره ده.دغه راز د هر عادي کار کوونکي کلنۍ تنخوا يې ۱۸۳۳۰۴ ډالره ده.

**مايکروسافټ:** د دغه شرکت اجرايوي مدير د خپلو عادي کارکوونکو ۱٥۴ برابره لوړه تنخوا اخلي او د کار کوونکو شمېر يې ۱۳۱۰۰۰ تنه دی. دغه راز د اجرايوي مدير کلنۍ تنخوا يې ۲٥۸۴۳۲٦۳ ډالره ده.

د هر عادي کار کوونکي معاش او اضافه کاري په کلني ډول ۱٦۷٦۸۹ ډالره کېږي.

**اينټل:** د دغه شرکت اجرايوي مدير د خپلو عادي کارکوونکو ۲۱۱ برابره لوړه تنخوا اخلي. د دغه شرکت د کار کوونکو شمېر ۱۰۲۷۰۰ تنو ته رسېږي.

د اجرايوي مدير کلنی معاش او نور امکانات يې ۲۱٥۴۴۷۰۰ ډالره کېږي.

د يوه عادي کار کوونکي کلنی معاش يې ۱۰۲۱۰۰ ډالره کېږي.

**کاترپنيلار:** د دغه شرکت اجرايوي مدير له خپلو عادي کارکوونکو څخه ۲۱۳ برابره لوړه تنخوا اخلي. د کار کوونکو شمېر يې ۹۸۴۰۰ تنو ته رسېږي. اجرايوي مدير يې په کلني ډول ۱۴۰۳٥۲۰۹ ډالره تنخوا اخلي. دغه راز هر عادي کار کوونکی يې بيا په کلني ډول ٦٥۷۷۰ ډالره معاش لري.

**جې‌پي‌مورګان چيس:** د دغه شرکت اجرايوي مدير د خپلو عادي کارکوونکو ۳٦۴ برابره لوړه تنخوا اخلي.

د دغه شرکت د کار کوونکو شمېر ۲٥۲٥۳۹ تنو ته رسېږي.

اجرايوي مدير يې په کلني ډول ۲۸۳۲۰۱۷٥ ډالره معاش او نور امکانات لري. دغه راز هر عادي کار کوونکي ته يې په کلني ډول ۷۷۷۹۹ ډالره تنخوا ورکول کېږي.

**جانسون اند جانسون:** د دغه شرکت اجرايوي مدير د خپلو عادي کارکوونکو ۴٥۲ برابره لوړه تنخوا اخلي. په شرکت کې يې د کار کوونکو شمېر ۱۳۴۰۰۰ کسانو ته رسېږي او اجرايوي مدير يې په کلني ډول ۲۹۸۰۲٥٦۴ ډالره تنخوا لري.

د دغه شرکت هر عادي کار کوونکي ته په کلني ډول ٦٦۰۰۰ ډالره ور کول کېږي.

**ماراتن پټروليوم:** د دغه شرکت اجرايوي مدير د خپلو عادي کارکوونکو ۹۳٥ برابره لوړه تنخوا اخلي. په دغه شرکت کې لږ تر لږه ۴۴۰۰۰ کسان په کار ګومارل شوي دي. اجرايوي مدير يې په کلني ډول ۱۹٦۷۰۸۰۷ ډالره معاش اخلي. دغه راز د شرکت هر عادي کار کوونکي ته په کلني ډول ۲۱۰۳۴ ډالره معاش ورکول کېږي.

**سکيچرز:** د دغه شرکت اجرايوي مدير د خپلو عادي کارکوونکو ۱٥۱۲ برابره لوړه تنخوا اخلي.

د دغه شرکت د کار کوونکو شمېر ۲۴٥۹۹ کسانو ته رسېږي.

اجرايوي مدير يې په کلني ډول ۷۷۷۳۹۹۲ ډالره تنخوا اخلي.

په دغه شرکت کې په کلني ډول يوه عادي کار کوونکي ته ٥۱۴۰ ډالره ورکول کېږي.

د دغه شرکت ډېری کار کوونکي واړه پلورونکي دي چې له امريکا بهر ژوند کوي.

**استه‌لودر:** د دغه شرکت اجرايوي مدير د خپلو عادي کارکوونکو ۱٦۹۰ برابره لوړه تنخوا اخلي.

په دغه شرکت کې لږ تر لږه ۷۷٦۰۰ تنه پر کار بوخت دي. اجرايوي مدير يې په کلني ډول ۴۸۷٥۳۸۱۹ ډالره تنخوا لري.

د دغه شرکت هر عادي کار کوونکي ته په کال کې ۲۸۸۴٥ ډالره معاش ور کول کېږي.

د دغه شرکت ډېرى کار کوونکي واړه پلورونکي دي چې له امريکا بهر ژوند کوي.

**مکډونالډ:** د دغه شرکت اجرايوي مدير د خپلو عادي کارکوونکو ۳۱۰۱ برابره لوړه تنخوا اخلي.

په دغه شرکت کې لږ تر لږه ۲۳٥ زره کسان پر کار بوخت دي. اجرايوي مدير يې په کلني ډول ۲۱۷٦۱۰٥۲ معاش اخلي.

دغه راز هر عادي کار کوونکي ته يې په کال کې ۷۰۱۷ ډالره ور کول کېږي.

د مکډونالډ شرکت ډېری کار کوونکي واړه پلورونکي دي چې په پولنډ کې ژوند کوي.

**ماټل:** د دغه شرکت اجرايوي مدير د خپلو عادي کارکوونکو ۴۹۸۷ برابره لوړه تنخوا اخلي.

د دغه شرکت د کار کوونکو شمېر ۳٥۲۸۰ کسانو ته رسېږي. اجرايوي مدير يې د کال ۳۱۲۷٥۲۸۹ ډالره تنخوا لري.

## امرالله صالح: د کورنيو چارو وزارت منسوبين د سولې پر پروسه د تبصرې اجازه نه لري

د کورنيو چارو وزارت وايي، د دغه وزارت منسوبين دې له دښمن سره د سولې او پخلاينې په اړه له تبصرې او تحليله ډډه وکړي.

د دغه وزارت مرستيال وياند نصرت الله رحيمي په خپله فېسبوک پاڼه ليکلي چې يادې څرګندونې د دغه وزارت سرپرست امرالله صالح کړې دي.

سرچينې زياته کړې: «له دښمن سره د احتمالي خبرو په اړه د ولسمشر د روښانه او څرګند سياست په رڼا کې او په هغه کې پرله پسې پرمختګ چې که خدای غوښتي وو، د ارامۍ او ثبات د تامين لامل شي، د حکومت د رهبرۍ صلاحيت دی او امنيتي ځواکونه پکې د نظر څرګندولو حق نه لري. د کورنيو چارو وزارت د رهبرۍ ټولو برخو ته دغه امر شوی دی.»

صالح ويلي، د کورنيو چارو وزارت او پوليسو دندې مشخصې دي، نو ځکه دې له دښمن سره د سولې د خبرو په اړه له تبصرې او تحليله ډډه وکړي.

نوموړي زياته کړې، د خبرو واک د دولت له مشرتابه سره دی، نه له وسله والو ځواکونو سره او دغه خبرې د کورنيو چارو وزارت پر موخو او پرمختيايي پروګرامونو هېڅ اغېز نه لري.

هغه دغه راز ويلي، د دغه وزارت د سرچينو او امکاناتو د ضايع کېدو، په شخصي کېس کې له موقف نه د ناوړه ګټې اخيستو، شهرت غوښتنې او شبکې جوړولو څخه د مخنيوي په خاطر، امر کېږي چې له سفيرانو، سياسي او قومي رهبرانو سره د وزير د ليدنې په ګډون د کورنيو چارو وزارت له ليدنو دې د تبليغاتو لپاره هېڅ انځور او فلمبرداري نه اخيستل کېږي.

د يادونې ده چې امرالله صالح د کورنيو چارو وزارت د سرپرست په توګه له ټاکل کېدو وروسته، ځينې مهمې پرېکړې صادرې کړې دي.

صالح ورمه ورځ په کابل کې د بهرنيو هېوادونو سفارتونو ته د دغه وزارت د کارکوونکو او پوليسو پر تللو بنديز ولګاوه. دغه راز ياد وزارت ويلي، هېڅ پوليس له نظامي يونيفورم او وسلې سره د ودونو، شېرينې خوريو او نورو مراسمو کې ګډون نه شي کولای او د پېر او پلور لپاره له خپلې کورنۍ سره يو ځای بازار ته هم نه شي تلای.

## پنټاګون: ايران په افغانستان کې ځينې سياسيون تمويلوي

د امريکا دفاع وزارت ويلي، ايران په افغانستان کې ځينې سياسي کانديدان تمويلوي. دغه خبره پنټاګون په هغه رپوټ کې کړې چې «په افغانستان کې د امنيت او ثبات پياوړي کول» تر نوم لاندې خپور شوی او په ډسمبر کې کانګرس ته استول شوی دی.

په دغه رپوټ کې د روان ميلادي کال د جون مياشتې له لومړۍ د نومبر تر پايه په افغانستان کې سياسي او امنيتي پرمختګونو ته کتنه شوې ده.

د پنټاګون په رپوټ کې ويل شوي، د افغانستان د پارلمان ځينو غړو او امنيتي چارواکو هم داسې رپوټونه ورکړي چې ايران د خپلو ګټو لپاره ځينو سيمه ييزو چارواکو ته رشوت ورکوي، خو په رپوټ کې د چا نوم نه دی اخيستل شوی.

کانګرېس ته د امريکا د دفاع وزارت په رپوټ کې ويل شوي چې ايران په افغانستان کې د داسې حکومت پلوي کوي چې د هغوی موخې خوندي کړي.

په رپوټ کې دغه راز ويل شوي، ايران په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو او ناټو پر ضد د مقابلې او د داعش د خراسان ډلې د ځپلو لپاره د وسله والو طالبانو سياسي او مالي ملاتړ کوي او هغوی ته وسلې او چاودېدونکي مواد برابروي.

دا په داسې حال کې ده چې تهران مخکې داسې تورونه رد کړي، خو د دغه رپوټ په اړه يې نظر نه دی څرګند کړی.

بلخوا د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت وياند صبغت‌الله احمدي په دې اړه ازادي راډيو ته وويل چې د ايران په اړه لا داسې پاپلې ته نه دي رسېدلي.

نوموړي زياته کړې: «موږ لږ تر لږه تر اوسه داسې مسئلې ته نه يو متوجه شوي. داسې نتيجې ته چې ايرانيانو به داسې تخريبي کارونه په افغانستان کې کړې وي، نه يو رسېدلي. د ايران اسلامي جمهوري له موږ سره ډېر ښه او نېک روابط لري».

خو د هرات امنيه قوماندانۍ له تروريزم سره د مبارزې رييس فضل الرحمن خادم ادعا کړې چې د ايران د اسلامي انقلاب د ساتونکو څانګړې ګارد هلته د امنيت په خرابوالي کې لاس لري. نوموړي ويلي: «په هرات کې د قتلونو، ترورونو او چاودنو په سلو کې اتيا پېښې د ايران د سپاه پاسداران او په هرات کې د ايران سرقونسل، محمود افخمي تنظيموي او د هغوی استخباراتي ډلې معلومات ورکوي. هغوی هر وګړی چې له خوا يې چپ وي، ترور کوي او په هرات ښار کې امنيت خرابوي».

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




دوشنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې لسمه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر ۳۱مه | دویم کال | ۳۰۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۱۲ | ۱۹ | ۲۱ | ۱۳ | ۲۰ |
| -۵ | ۵ | ٦ | ۵ | ۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۰ | لمر ختل ۰٦:۵۹ | ماسپښین ۱۱:۵۷ | مازیگر ۰۳:۱۵ | ماښام ۰٤:۵۳ | ماخوستن ۰٦:۲۳

## نړۍ




## د پاکستان هوايي چلند یا(PIA) شرکت لسګونه کارکوونکي له دندو شړلي

۳

## سیما سمر: افغانها صلحی میخواهند که عادلانه و با اشتراک مردم باشد



رئیس کمیسیون مستقل حقوق بشر می‌گوید که افغانها صلحی میخواهند که عادلانه و با اشتراک مردم باشد؛ در غیر آن مذاکرات صلح با طالبان، یک معامله سیاسی کوتاه مدت است.

داکتر سیما سمر رئیس کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان، این مطلب را دیروز در جریان سفرش به ولایت بدخشان ابراز کرده است.

سمر را در این سفر، ریچارد دیفیو مسؤل حقوق بشر دفتر یوناما در افغانستان نیز همراهی میکند.

موصوف، هدف سفرش از بدخشان را دیدار با اعضای جامعه مدنی ومسؤلین حکومتی آن ولایت و بررسی نگرانی‌ها در خصوص حقوق بشر عنوان کرد.

خانم سمر در مورد نگرانی های اساسی و بنیادی در رابطه به حقوق بشری که در این ولایت موجود است گفت: «متاسفانه، تصرف ۲ ولسوالی بدخشان به دست مخالفین دولت و تهدیدات بلند امنیتی در ۸ ولسوالی دیگر، خشونت علیه زنان خصوصاً در مناطق تحت تسلط مخالفین و ادامه فرهنگ معافیت که زمینه خودکشی و یا لت و کوب زنان را فراهم میکند، همه و همه از جمله نگرانی های اساسی در خصوص نقض حقوق بشری در بدخشان بود ه میتواند».

او گفت که باید به گونۀ جدی تلاش صورت گیرد تا میزان فقر در بدخشان پایین بیاید.

سمر در بخشی از صحبت هایش با فعالان مدنی بدخشان، در مورد مذاکرات صلح با طالبان گفت: «ما در افغانستان صلح میخواهیم؛ اما صلح به هر قیمتی نه، صلح عادلانه باشد، صلح به اشتراک مردم و روشن باشد، صلح با اشتراک زنان باشد، با آمدن صلح ارزش های حقوق بشری وعدالت نباید زیرپاشود؛ درغیر آن صلح نیست، بلکه یک معامله سیاسی کوتاه مدت است».

ریچارد دیفیو مسؤل حقوق بشر یوناما در افغانستان، در صحبت هایش گفت: «اولویت های یوناما در افغانستان حمایت از حقوق بشری مردم افغانستان و رسیدن به یک صلح پایدار می باشد».

د کوماندو زړور ځواکونه د غوره سرتیرو له منځه ټاکل شوي او د هیواد د ساتنې په موخه یې د دغې ارزښتناکې دندې د ترسره کولو لپاره سخته روزنه ترلاسه کړې ده. د خپلو هېوادوالو له خدمت څخه بله لوړه دنده نشته.

نیروهای شجاع کماندو از میان بهترین سربازان انتخاب شده اند و آموزش های سختی را جهت انجام این وظیفه با ارزش برای محافظت از کشور، کسب کرده اند. هیچ وظیفه بالاتر از خدمت به هموطنان نیست.




په خپلو ولایتونو کې د ملي اردو د جلب او جذب له مرکزونو او ګرځنده ډلو سره په اړیکه کې شئ او یا ۱۴۲ شمېرې ته زنګ ووهئ!

به مراکز و یا تیم های سیار جلب و جذب اردوی ملی در ولایت های تان به ارتباط شوید و یا به شماره ۱۴۲ تماس بگیرید.